آصف بهاند ۲۰۱۶/۱۲/۳۱

# لارورکي لارويان

## اتمه برخه

د سیاف جان؟ او مزاري جان؟ تر منځ دري خونړی جګړې په کابل پوهنتون، دهبوري او میرویس میدان کي ما په خپلو سترګو لیدلي دي؛ خو اوس چي سیاف جان؟ د حزب وحدت له رهبرانو او آصف جان؟ محسني سره وروري او مینه کوي، په غیرو ستړي مه شي سره کوي؛ ټول خلک حیرانیږي.

یو وار ژورنالیستانو له سیاف جان؟ نه پوښتنه وکړه:

تاسو چي اوس داسي مینه او وروري کوئ، هغه جګړې مو د څه له پاره کولې، هغومره خلک مو د څه له پاره وژل؟

سیاف جان؟ په ځواب کي وویل:

«کومي جګړې؟ چیرې؟ زه هیڅ خبر نه یم.»

په مکرویانو کي د لالا لطیف د اوسیدو پته وه، یوازي مور مي په کلي کي پاتي وه، نور د احمد شاه د خسرګنۍ په شمول، ټول په هماغه دري کوټیز کور کي سره ټول شوي وو، زه هم یوه شپه ور پیښ شوم په همدي شپه مي په کور کي سره را ټول شوي خلک وشمیرل، تعداد یي شپږدیرش تنوته رسیده. زه غونج ویده شوی وم، پښي مي چي شخي شوې، غځولي مي، نه غځیدې؛ که ګورم حنیف جان ورور مي زما پښو سره په ناستي ویده شوی و.

هلته هم نور د ګزارې ځای نه و، د مرګ په انتظار مو شپې سبا کولې. هرې خوا ته مو چي مخه کوله، په ډزو مو هرکلی کیده. په وطن کي د رواني غمیزې او ستونزو په حل کي ما هیڅ ډول مرسته نه شوه کولای، زما ټوله میړانه دا وه چي یوازې مي خپل اولادونه او ښځه، لکه د پیشکي بچې له یوه ځای نه بل ځای ته د مرګ د ویرې له لاسه لیږدول.

نور په تګ راتګ هم ستړی شوی وم؛ نو هماغه و چي د خپل ځان او د خپلو ماشومانو د سر ساتني په خاطر له وطن نه د وتلو پریکړه مو وکړه. موږ له ډیر مجبوریت نه داسي خوا ته مخه کوله چي باید نه مو وای کړې. پاکستان ته، هغه ځای ته چي انګریزانو د خپلي ماتي د غچ اخیستني په خاطر، د سیمي د هیوادونو او خلکو، په ځانګړي ډول د افغانستان او هند له پاره د سترګو د ازغي په ډول په ځای پرېښی و.

انګریزي استعمار د آسیا او منځني ختیځ د خلکو د آزارولو په خاطر په ۱۹۴۷ م کال کي دوه نا جایز اولادونه وزیږول، چي یو یي اسرائیل او بل یي پاکستان و. زما پلار نظامي صاحب منصب و او دوه ځلوېښت کاله یي د افغانستان په اردوکي خدمت کړی دی. زه لا ماشوم وم چي د ده له خولي نه مي د پاکستان د جوړیدو او له افغانستان سره یي د ستونزو په باب څه نا څه اوریدلي وو. دا کیسه یي هم موږ ته کړې وه چي دی زلمی صاحب منصب و او د همدي ستونزو په اړوند سردار داود سفربري اعلان کړې وه او...

نو له هغه وخته مي دغه غوټې په زړه کي پاتي وې. په افغانستان کي د ۱۳۵۷ کال بدلون، د پاکستاني سیاستوالو له پاره لنګه غوا شوه. له شوروي اتحاد سره په سړه جګړه کي ښکیل ټولو هیوادنو د سړې جګړې تر ځنګ په پټه د تودي جګړې اور هم بل کړ.

امریکا، اروپایي هیوادونو، سعودي عرب او... د خپلو اهدافو د پوره کیدو له پاره دا اشتباه هم وکړه چي په ډیر لوړ مصرف یي د شوروی او نوی شوروی پلوه دولت پر ضد د پاکستاني اردود استخباراتو په لاربښوونه د وسله والو روزل پیل کړل.

ټولي مرستي لومړی پاکستاني مقاماتو ته ورکول کیدې، بیا له هغو مرستو نه ډیره لږه سلنه ټوپکوالو ته په لاس ورتله، دغه راز مهمه خولا دا ده چي پاکستان له امریکا څخه د شوروي د ضعیفولو په بدل کي افغانستان د خپلی حق الزحمې په ډول غوښته. دا خبره د وخت د «I.S.I» رئیس اخترعبدالرحمن، دسي ـ آی ـ اې د وخت رئیس ویلیام کیسي ته د ضیاالحق په ګډون په یوه ځانګړې غونډه کي کړې وه: (ابراهیم عطایي، نګاه مختصربه تاریخ معاصر افغانستان، ص۴۹۳)

د ضیاالحق لویه هیله دا وه چي په افغانستان کي باید د پاکستان تر نظارت او هدایت لاندي یو ډیر ضعیف حاکمیت منځ ته راشي او دا کار هغه وخت ممکن و چي د نجیب د حاکمیت اردو له منځه یوړل شي او اقتصادي ـ فرهنګي موسسي له بیخ او بنیاد څخه ویجاړې شي. ضیا الحق د دې پلان د تر سره کولو له پاره پاتي نه شو، ده او اخترعبدالرحمن خپل سرونه وخوړل، خو نوازشریف دغه پلان د نا اهله پلورل شوو افغانان تنظیمي مشرانو په وسیله تر سره کړ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پاکستانیانو او ایرانیانو د تنظیمي ټوپکیانو په وجود کې دغه پلان ډېر ښه عملي کړ. ټول عام المنفعه موسسات یې وسوځول، پلونه، د برق پایې، لویې لارې، مکتبونه، پوهنتونونه، فابریکې او هر څه د اور خوراک شول.
پاکستانیانو د امریکا د غولولو له پاره د پېښور د موافقه لیک پر اساس لومړی لړ څه معتدل اخوانی صبغت الله مجددي وړاندې کړ او بیا یې د ضیا الحق د پلان پر اساس د یوې ضعیفې اداري د رامنځ ته کېدو په خاطراصلي مکتبي اخوانی، د اخوانیت په څاله کې روزل شوی اخوانی، برهان الدین را وړاندې کړ.
رباني باید څلور میاشتې په واک کې پاتې وای، خو دی په خپل ټول توان او مداري ګری سره څلور کاله د واک پرګدۍ ناست و. دی دومره د واک لیونی و چې د«پهلوان زنده خوش است» واقعي مفهوم یې هم په ځان تطبیق کړ.
کله چې د ۱۹۹۴ کال د سپتمبر په ۲۷ طالبانو کابل ونیوه، رباني تخار ته وتښتید او هلته یې «کانتینري حکومت» جوړ کړ. استاد ابراهیم عطایي په خپل کتاب (نګاه مختصر به تاریخ معاصر افغانستان، ص۴۹۲) کې لیکي چې رباني په تخارکې کانتینرونه ایښي وو، په یوه یې لیکلي و د پوهنې وزارت، د بل کانتینر په لوحه یې لیکلي و د کورنیو چارو وزارت، په همدې ډول نور وزارتونه او د یوه زاړه کور پر زړې دروازې یې لیکلي و:
مقام ریاست جمهوري افغانستان.
او دا دی تر نن پورې د افغانستان د ورانې غمیزې پړه هیڅوک پر ځان نه مني. نه بهرنیان او نه هم تنظیمونه، هر یو یې پر بل ور اچوي. ښه مثال یې د دارالامان مانۍ ده. مسعود جان؟ د آسمایي د غره پر سر توپونه خښ کړي وو او لر او بر کابل یې پرې ویشته. د دارالامان تاریخي مانۍ له همدې غره څخه د توپ په ډزو ورانه شوه، خو د شورای نظار غړي او پلویان یې وایي:
«قصر دارالامانه ګلبدین خراب کد.»
پاکستانی نظامیان له تنظیمي ټوپکیانوسره ګام په ګام د کابل د ورانولو او سوځولو له پاره را روان وو. دا د امان اشک ریز د خولې خبره ده چې ما ته یې په خپله ویلې ده:
کله چې ټوپکیان ارګ ته ننوتل، لوړ رتبه پاکستاني مقامات هم ور سره وو. امان اشکریز په دې وخت کې د رادیو تلویزیون د نظامي برخې مسؤل و، د خپل یونټ سره د خبر جوړولو په غرض ارګ ته تللی و، ټوپکیانو په ارګ کې برګ اتڼ جوړ کړی و، تاویدل را تاویدل. د ارګ له منځ نه د پاکستان کوم لوړ پوړي چارواکي د تلیفون پر کرښه نوازشریف ته داسې مبارکي ورکوله:
مبارک دې وي، زه د ارګ له منځه خبرې در سره کوم.
کله چې نوازشریف د اپوزیسیون تر سختو انتقادونو لاندې راغی چې د واکدارۍ په دوروه کې یې د پام وړ څه نه دي کړي، نو ده په هسکه غاړه و ویل:
که مې نور هیڅ نه دي کړي، دا ویاړ مې بس دی چې د افغانستان پیاوړی اردو مې په ګونډوکړ، له منځه مې یوړ، افغانستان مې په اور کې وسوځاوه او لوټه، لوټه مې کړ.
د پېښور، پلچرخي او اسلام آباد د غونډو او ترونونو ښکاره او مخامخ رهبري «آی اس آي» کوله. ټولې بهرنۍ مرستې اول پاکستانیانو ته په لاس ورتلې، د مرستو ډېره سلنه به دوی په بیلابیلو نومونو مصرفوله، لږه سلنه به تنظیمي مشرانو ته ورکول کیده. پاکستانیان وبه اصلي مرستې خپله اخیستې او په بدل کې به یې د خپلو سلاح کوټونو او ګدامونو زنګ وهلې وسلې افغانانو ته ورکولې او جګړې ته به یې لیږل.
دغه راز ایران هم په افغانستان کې د خپل منفي رول په لوبولو کې له پاکستاني سیالانونه وروسته پاتې شوي نه دي.
که پاکستان د افغانستان د ورانولو له پاره اوه وسله والې ډلې وروزلې؛ نو ایرنیانو اته ډلې وروزلې.
ایران د نظامي یرغل تر څنګ پر افغانستان باندې فرهنګي یرغل هم کړیدی. ایرانیانو په سیمه کې د شیعه ایزم د پراختیا او ترویج او د فارس د امپراتورۍ د بیا جوړولو له پاره، پر ټولو افغانانو باندې د فارسي ژبې د تحمیل په خاطر، هیڅ ډول هلې ځلې نه دي سپمولې.
یو واري بی بی سی رادیو خبر ورکړ چې په ترکمنستان کې ترکمني مقاماتو له ایران نه ورغلی شپاړس واګوني ریل ګاډی توقیف کړ. د ریل ګاډي د لومړني واګون پر تندي لیکلي وو:
«کمک های جمهوري اسلامي ایران به مردم رنج دیدۀ افغانستان.»
خو په ریل ګاډی کې پرته له سلاح بل څه نه وو، چې د شمال ټولوالي ته یې لیږدوله. دا وه د ایران د اسلامي جمهوریت؟ د همژبتوب، همدینتوب او ګاونډیتوب د بیسارو تحفو یوه وړه نمونه چې د افغانستان وړو او له جګړې سترو خلکو ته یې ورلیږله.
دغه راز روسان هم له افغانستان څخه له وتلو وروسته غلی کیناستل، خپلو لاس وهنواو ورانې ته یې دوام ورکړ. یو وار ژورنالستانو د روسیې د وخت له جمهوررییس ولادیمیرپوتین نه پوښتنه وکړه چې روسانو په افغانستان کې جګړه بایلوده، مات شول او و وتل. پوتین په ځواب کې و ویل:
نه، موږ په افغانستان کې جګړه نه ده بایلودې او نه یو وتلي، اوس هم په افغانستان کې موږ په جګړه لګیا یو، که روسان نیغ په نیغه په افغانستان کې حضور نه لري، پنځوس کاله نور زموږ وسلې او لاسپوڅي هلته جګړه کوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ایران او پاکستان هر کله دا بار د افغانانو پر اوږو ور اچوي چي مهاجرو ته يي پناه ورکړې ده؛ خو په مقابل کي هيڅ کله دا نه يادوي چي دوی د دې مهاجرو له وجود نه څومره ګټي اخيستي دي.
پاکستان اتومي بم د افغانانو د مهاجرت او د افغانانو د نا اهله زامنو د حماقت نه په استفادې سره تر لاسه کړ. پاکستان او ایران هيڅ کله د افغانستان دوست نه وو او نه به شي.
دې مهاجرو د دوی د وطن په آبادی کي څومره خولې تويي کړې دي، دا هم نه يادوي چي دا مهاجر جبراً هلته استوګن شوي دي، نه د هوس په خاطر، په دې هم خبر نه دي چي دا مهاجر له هغې تولنې، پوليسو او حکامونه ښه زړه لري که بد. د دغو سختيو او بد بختيو يو جګ غږ او جګې چيغې ته پام وکړئ. د شعر دې نمونې ته وګورئ چي يو افغان مهاجر د يوې مرې ډوډۍ د پيدا کولو په خاطر څه ورځې تيروي او څه ستونزې ګالي. شاعر د خپل دردېدلي ژوند او دردېدلي زړه غوټې پرانيزي. د شعر شاعر ما ته نه دی ما لوم، هر څوک چي وي، د ايران د ناروااوو، مزدوريو او غمونو ښه انځور يي کړی دی، او خوږ غږي سندرغاړي فيروز کندوزي په خپل خواږه غږ کي ډير ښه زمزمه کړی دی.
دا شعرښاغلي کندوزي په دوه ډوله زمزمه کړی دی. لومړی په آزاده فضا کي له يوې دمبورې او يوه ضرب (زير بغلي) سره، دويم يي له رباب او تبلې سره په کومه ستديو کي. شعر کيدای شي ډير اوږود وي. په لومړنی ثبت شوي برخه کي شعر يو بند اوږد دی، خو زه يي په دا وروستي بند سم پوه نه شوم، ځکه مي له دويمي سندرې نه دا شعر ثبت کړی دی:

## ورک دې شي ايران

ورک دې شي ايران له غم لړلو تومنو سره    ژوند مي په کي تيرکړ دم د يو جوړه جامو سره

ورک دې شي ايران، په ايران کي مي زړه تنګ دی
هر شرکت ته لاړ شم، په نصيب کي مي کلنګ دی
پوه په ګناه نه يم، د مهندس را سره جنګ دی
مياشت مي پوره نه وي، بيا روان شم بسترو سره

ورک دې شي ايران له غم لړلو تومنو سره    ژوند مي په کي تيرکړدم د يوجوړه جاموسره

ورک دې شي ايران، کار يي ټول په غم لړلی دی
هر ځوان ته چي ګورې، په ژوندېني د ګور مړی دي
حال پوښتنه ی مه کړه، د مزله ګردو وهلی دی
څوک لارو کي مړه شول، څوک سودا کوي ګوروسره

ورک دې شي ايران له غم لړلو تومنو سره    ژوند مي په کي تيرکړ دم د يوجوړه جاموسره

https://www.youtube.com/watch?v=H3fW9H35BCQ

په افغانستان کي د افغانانو د نا پوهی په وجه او د ټولو دخيلو هيوادونو د منفي رول د لوبولو په نتيجه کي، افغانستان په ګورستان بدل شوی و. موږ د بها الدين مجروح په شانتي د بيداد له ښار نه د ظلم آباد په لوري سفر ته اړ شوو.
هغه شيبه را ورسيده چي مور بچي له تي جدا کوي. زه له خپل وطن نه جدا کيدم.
د وطن پرېښودلو ته اړ ايستل شوم، خو په ټوله مانا په دې پوه نه شوم چي افغانستان يعني څه؟
ما په کي د خپلي تاندي ځوانی تاندي شيبيي داسي تيري کړې، لکه تي خوری ماشوم يي چي د مور په غيږ کي تيروي.
او په دې موده کي په دې پوه شوم چي افغانستان يو بڼ و؛ خو دا وخت دا بڼ د خپلو بچو له پاره د مرګونو په تمځي بدل شوی و، افغانستان اوس په يوه وچه بيديا او يو وچ ډګر بدل شوی و. مګر د څه شي ډګر؟
زه دومره پوه شوی يم چي:

**کور دننه د چپي او راستي ګوندونو د سر ماتولو، ترور او جګړو ډګر= افغانستان**
**د هند او پاکستان دخپلمنځي سياليو او نيابتي جګړې او مقابلې ډګر= افغانستان**
**د امريکا او القاعدې د مقابلې او سيالی ډګر= افغانستان**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

**د سرې جګړې د پای ټکی او اصلي ډګر= افغانستان**
**د تنظیمي ټوپکیانو د وحشت، سیالی چور تالان او غچ اخستنې ډګر= افغانستان**
**د مخدراتو د کرنې، پروسس او قاچاق ډګر= افغانستان**
**د عربي وهابیت اوایراني شیعه ایزم د مقابلې او نیابتي جګړې ډګر= افغانستان**
**د بوش او بن لادن د ښکر په ښکر کیدو، نیابتي جګړې او زور آزمویني ډګر= افغانستان**
**د نرې د ډیرې تیتې بیې خون بها د خلکو د اوسیدو ځای = افغانستان**
**د نړۍ د ډیرو پر مخ تللو او وروستي ماډل سلاح ګانو د آزمویني او کارولو ډګر= افغانستان**
**او : آف غا نست ا ن...**

له دغو تولوعقدو، ستونزو او د وطن د پرېښودو له درانه پیټي سره مې مجبوراً باید د پاکستان په لوري مخه کړې وای.
زما او زما د میرمنې او بچ وپاسپورتو نه جوړوو، ستونزه د ورینداري او د وریرونو د پاسپورت وه. د هغوی د پاسپورت کارونه مې پیل کړل. هره ورځ به د پاسپورت ریاست ته تلم. ټول خلک په تیښته کې وو، د پاسپورت د ریاست په انګړکې خلک نه ځایدل، ما په ډیر زحمت د ورینداري د پاسپورت کارونه خلاص کړل، د کوم مدیر امضا پاتې وه، چې وروسته د هغه له امضا نه باید د پاسپورت قیمت په بانک کې تحویل شوی وای.
مدیر د نویو خلکو له ډلې نه هم نه و، پخوانی مامور ښکاریده، راته وې ویل:
ښځه دې څه کیږي؟
ما لکه کلک راستګوی و ویل:
ورېندارمې ده.
له دې سره یې سم را ته وویل:
چې اوس اسلامي قانون دی، ښځه او د هغې محرم دې راشي.
ما مدیر صاحب وپوښته:
محرم تاسو چا ته وایئ؟
هغه په ډیره نرمه لهجه چې پښیماني یې ملتیا کوله، را ته و ویل:
«باید یا یې میره موجود وي یا یې ورور!»
ما د ږیرو په ناتار او د ګولیو په باران کې خپل ورور او د ورینداري ورور له کومه کړي وای. د ورینداري ورور په میدان ښار کې او زما ورور په ماسکو کې و، د دوی د راتګ امکانات نه وو.
د مدیر له دفتر نه د باندې په انګړ کې د خدای په هیله هک پک ودریدم، له ځان سره مې ځُرت واهه چې اوس یې څنګه کوې. که ګورم چې یو پخوانی یار را نږدې شو. ده هم د نویو تپل شویو قوانینو په سیوري کې د ږیرې ت ربارلاندې ژوند کاوه. په اول سر کې ما ونه پیژانده، له لنډې سترې مه شې نه وروسته مې وپیژانده. هغه و پوښتلم:
«ولې داسې اوتراو پریشانه یې؟ »
ما ورته داستان بیان کړ.هغه و ویل:
«دا خو څه مشکل کار نه دی. پوهاند صاحب رشاد خو دې استاد دی، هغه ته ورشه، د پاسپورت رئیس جنرال محبوبي هغه ته داسې احترام لري لکه مرید یې چې پیرته لري.»
بس، له هغه ځای نه مې په بایسکل باندې پښنه واړوله او مخامخ رشاد صاحب ته ورغلم. د ټوپکي ناورین نه مخکې به زه هره اونۍ یو وار د رشاد صاحب زیارت ته ورتلم. د هغه مبارک د صحت د پوښتنې تر څنګه به مې د خپلو درسونو، مطالعاتو او تحقیقي کارونو په لړکې راولاړې شوې ستونزې هم ور سره شریکولې او ښایسته ډیر ځنډ به مو مرکې سره کولې، ده مبارک به ماخذونه را ته په نښنه کول، لارښوونه به یې راته کوله او زما پوښتنو ته به یې په ډیرې مهربانۍ ځوابونه راکول او د څیرنې نوې لارې او ضروري مسایل به یې را ته په نښنه کول.
له رسیدو سره سم مې ولیدل چې علامه د کتابتون منځ کې په مطالعه بوخت دی. زه چې څنګه کیناستم، دی مبارک د مطالعې له کوټې نه میلمستون ته راغی. له روغبړ وروسته مو لکه د تل په څیر یو څه مرکه سره وکړه. ده فکر کاوه چې زه به بیا د پوښتنو کوم لیست را وباسم؛ خو ما اصلي موضوع ور یاده کړه. دی مبارک ناڅاپه پاڅیده او بیرته خپل کتابتون ته ولاړ، د خپل کار د میز د له روک نه یې خپل یو ویزت کارت را واخست او داسې یې پرې ولیکل:
«محبوبي صاحب!
آصف بهاند اول زما شاګرد او بیا همالته ادبیاتو پوهنځي کې استاد شو، څه کار یې تاسو سره بند دی، د ده د ستونزو په برخه کې مرسته وکړئ.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

محبوبي ته مي په ډېر جنجال ليک ور ورساوه. محبوبي چي د رشاد صاحب کارت او نوم وليد، ډېر احترام يې وکړ؛ خو د شک او ترديد په سترکه يې را ته کتل. زما سر او وضع ډېره خرابه وه. کالي خيرن، ږيره ببره او هيڅ ځای مي د پوهنتون استاد ته نه پاتي کيده؛ په همدې حال کې د پاسپورت رئيس ښاغلي محبوبي پوښتنه را نه وکړه:
«په خپله استاد چيري دی؟»
ما ورته و ويل:
«زه په خپله يم، آصف بهاند يم.»
بيا يې د کار پوښتنه وکړه. ما د پاسپورت اوراق په مخکي ورته کينودل او داستان مي ورته تير کړ. ده پرته له ځنډه نوم وړی مدير را وغوښت او هماغلته يې پاڼي ور باندي امضا کړې. په هماغي شيبه مي د ورينداري د پاسپورت پاڼي واخستلي او د کورنيو چارو وزارت ته مخامخ، د افغانستان بانک ښاري څانګي ته ورغلم، چي د پاسپورت قيمت وسپارم. يو ايله جاري غوندي هلک، ټوپک په لاس، پکول پر سر، دستمال په غاړه چي هيڅ ځای يې د بانک ساتونکي ته نه پاتي کيده، راته و ويل:
«برو بيادر، بانک بسته شده، خزانه دارا حسابي ميکنه،سبا بيا!»
سبا وختي مي ټاکلي ځای ته ځان ورساوه. هماغه ټوپکوال له هماغه پکول سره په يوې زړې څوکی ناست و، خود بانک ودانی لوټه، لوټه پرته وه. ما چي د پوښتني تابيا وکړه، هغه په يوه غولونکي خندا راته و ويل:
«برو بيادر ده بانک مرکزي، اينجه ره شو ګلبدين کتي راکټ زد خراب کد.»
دخلکو دګونګوسي له مخي دوی خپله د شپي له خوا د بانک دارايي لوټوله، تعميربه يې په ماين يا راکټ الوزاوه او بيا به يې پړه پر مخالفينو ور اچوله.
په دې ډول په افغانستان کې کله چې هر ډول ضد بشري، ضد ملي او ضد انساني جنايتونه تر سره شي، بيا دشريعت خولی ور باندې اينبودل کيږي او پټيږي، له بده مرغه چي ساده افغانان د شريعت د نامه په اوريدو سره خوله ګونګی کوي او ځان غلی نيسي.
له دغو ټولو عقدو او د وطن د پرېښودلو له درانه پيټي سره مي مجبوراً د پاکستان په لوري مخه کړه. په موټر کي ناست وم او د خپلي کورنی، مور، کلي، کور، ښار او وطن په باب مي چُرت واهه او د ذهن په تا خانو کې مي د يو شعر دغه کلمات هم په ژړا سر وو:

**که يون دی يون دی،مخ کي بيلتون دی ...**

ما د موټر له کړکی نه د باندې کتل، ليدل مي چي هر څه مندې وهي او زموږ د حرکت پر خلاف روان دي او زموږ د ليدلو له سيمي نه وزي.
او ما ليدل چي زه له خپلي خالي نه لرې کيږم.
او ما ليدل چي...
او ما ليدل چي زما لاس تش دی او زما د عمرونو خواري په اوبو لاهو شوې او اورکي سوځيدلي ده او زه تش لاس په نا آشنا لارو سر او د ظلم آباد پرلوري روان يم.

**«برياليتوب د هغه چا دی، چي ډير استقامت ولري»**

د اتمي برخي پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ